# د میډیکیډ د تجدید عمل جریان پاڼه

## په پروسې یا عمل پړله پسې پوهیدل

**مخکې لدې چې ستاسو د تجدید وخت وې**، موږ به هڅه وکړو چې ستاسو د Medicaid/FAMIS پوښښ په اوتومات ډول نوي کړو. په یاد ولرئ لکه څنګه چې موږ د خپلو نورمال بیا تعییناتو یا پریکړو بیا پیل کوو، هغه میاشت چې پکې موږ ستاسو تجدید پیل کوو ممکن توپیر ولري - له موږ څخه په اړیکو نظر وساتئ!

**که تاسو په اوتومات ډول نوي شوي یاست، نو تاسو به یو لیک ترلاسه کړئ چې تاسو ته به خبر درکړي چې ستاسو پوښښ دوام لري،** او ستاسو د میډیکیډ د روغتیا پوښښ سمه ده!

**که تاسو په اتوماتیک ډول نوي شوي نه یاست، تاسو به په بریښنالیک کې یو څه ترلاسه کړئ چې تاسو ته به خبر درکړي چې موږ نورو معلوماتو ته اړتیا لرو.**

**که تاسو د تجدید یوه فورمه ترلاسه کړئ، نو تاسو به ژر تر ژره اقدام کولو ته اړتیا ولرئ.** کله چې تاسو دا ترلاسه کړئ ټاکل شوې نیټه به په فورمه کې چاپ شوې وی. که تاسو غواړئ، یوځل چې تاسو فورمه ترلاسه کړئ تاسو د نوي کولو لپاره ډیری اختیارونه لرئ: 1) کوور ورجینیا (Cover Virginia) ته زنګ ووهئ په 1-855-242-8282 (TTY: 1-888-221-1590), 2) یا CommonHelp.virginia.gov ته آنلاین لاړ شئ، یا 3) د کاغذ فورمه په شخصی ډول یا د ډاک یا فکس له لارې بیرته واستوئ.

ستاسو فورمه به هغه معلومات ولري چې تاسو ورته اړتیا لرئ د تلیفون، آنلاین یا کاغذ له لارې خپل تجدید وسپارئ.

**که تاسو یو چک لیست ترلاسه کړئ، نو دا به تاسو ته دقیقا ووایي چې موږ ستاسو د تجدید بشپړولو لپاره څه ته اړتیا لرو،** لکه ستاسو د معاشونو یا تادیاتو پاڼې. تاسو کولی شئ خپل تاییدونه په شخصی ډول بیرته ورکړئ، یا د ډاک یا فکس له لارې، یا د CommonHelp له لارې. ټاکل شوې یا مقرره نیټې ته پام وکړئ، په هرصورت، که تاسو ډیر وخت ته اړتیا لرئ یا د هغه معلوماتو په ترلاسه کولو کې ستونزې لرئ چې موږ ورته اړتیا لرو، مهرباني وکړئ ژر تر ژره اړیکه ونیسئ چې موږ ستاسو سره کار وکړو ترڅو ستاسو د روغتیا پاملرنې د پوښښ په بشپړه توګه بیاکتنه وکړو.

**یوځل چې موږ ستاسو فورمه او ستاسو ټول تاییدات ترلاسه کړو (که اړتیا وي)، موږ به ستاسو د قضیې بیاکتنه وکړو.** ستاسو د بیاکتنې بشپړیدو وروسته تاسو به یو لیک ترلاسه کړئ، تاسو ته به خبر درکړي چې ستاسو پوښښ ته څه پیښ شوي دی. که تاسو نور وړ نه یاست، یا له بشپړې پوښښ څخه محدودې پوښښ ته لیږدول شوي یاست او تاسو میډیکیر (Medicare) نلرئ، موږ به ستاسو معلومات بازار ځای ته د نوری پوښښ او/یا پرمختللي پریمیم مالیې کریډیټونو د بیاکتنې لپاره واستوو. که تاسو فکر کوئ چې موږ تېروتنه کړې، ستاسو په لیک کې د اپیل حقونه لیست شوي دي. په دی توګه، که ستاسو حالت بدل شي، تاسو کولی شئ تل د تلیفون، آنلاین یا کاغذ له لارې بیا غوښتنه وکړئ.

**که موږ ستاسو فورمه یا ستاسو تصدیقونه ترلاسه نکړو، نو ستاسو د روغتیا پوښښ به د "نوی کولو کې ناکامی (failure to renew)" لپاره پای ته ورسیږي او تاسو به یو لیک ترلاسه کړئ چې تاسو ته به خبر درکړي کله چې ستاسو ګټې وتړل شي.** دا ډیره مهمه ده چې تاسو خپل کاغذی کار بیرته ولیږئ، حتی که تاسو فکر کوئ چې تاسو ممکن د دوو دلیلونو یا لاملونو لپاره وړ نه یاست: 1) تاسو کیدای شي د پوښښ لپاره وړ یاست چې تاسو شاید ترې خبر نه یاست یا نور پروګرامونه چې محدود پوښښ چمتو کوي او 2) موږ نشو کولی ستاسو معلومات بازار ځای ته واستوو که چیرې موږ ستاسو د قضیې بیاکتنه ونه کړو. په هرصورت، که تاسو د "نوي کولو کې پاتې راتلل (failure to renew)" دلیل لپاره تړل شوي یاست، تاسو د بندیدنې وروسته درې میاشتې وخت لرئ چې فورمه یا تایید بیرته ورکړئ ترڅو موږ ستاسو د ګټو بیاکتنه وکړو - تاسو اړتیا نلرئ بیا غوښتنه وکړئ! د دریو میاشتو وروسته که موږ ستاسو څخه ونه اورو نو تاسو به بیا غوښتنه کولو ته اړتیا ولرئ که تاسو غواړئ موږ وګورو چې ایا تاسو بیا وړ کیدای شئ.



**که تاسو نور د بشپړ پوښښ لپاره وړ نه یاست نو تاسو کولی شئ د ویرجینیا میډیکیډ (Virginia Medicaid) څخه بهر د پوښښ په اړه نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره enrollva.org ته لاړ شئ یا 888-392-5132 ته زنګ ووهئ.** ویرجینیا نوم لیکنه (Enroll Virginia) روزل شوي مرستندویان لري، چې د نیویګیټرز یا چلوونکوانو په نوم یادیږي، کوم چې تاسو سره آنلاین یا په شخصي توګه د روغتیا پوښښ لپاره په ګډون کولو کې مرسته کوي. دوی کولی شي پلانونه او لګښتونه د یوې اسانې، نامعلومی آنلاین وسیلې سره پرتله کړي - معلومه کړئ چې تاسو څومره مالي مرستې ترلاسه کولو او نوم لیکنې وړ کیدای شئ!

DMAS Unwind Flowsheet (1) 0223 PA v2